# ادوبي ايلسترېټر

(په آسانه انداز کې)

Ketabton.com

ژباړن : ولایت خان

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اډوبي ایلسټریټر

(پیژند ګلوی)

اډوبي ایلسټر یټر د ایډوبي شرکت یو مشهور پروګرام ده. د دې پروګرام مقبولیت ورځ په ورځ زیاتیږي. او په کسبي چاپیریال کې لکه د اعلاناتو شرکتونو کې، د تولیداتو شرکتونو کې ، تې وي چینلونو کې او چېرته چې هم د ګرافک ډیزایننګ( اوډون)، پرنټنګ( چاپ)، السټریشن وغیره سره تړلي کارونه کیږي هلته اډوبي ایلسټریټر ضرور کارول کیږي. او زیاتره مراجعه کونکي په اډوبي ایلسټریټر سره شوی کار ډېر خوښه وي.

اډوبي ایلسټریټر په بنیادي توګه باندې یو ویکټر ګرافک( vector graphic)پروګرام ده. خیر! د ویکټر ګرافک په باره کې به موږ مخته خبرې کوو.

په دې مضمون کې به زما کوښښ وي چې تاسو ته د اډوبي ایلسټریټر په باره کې بنیادي معلوماتو سره سره د عملي تمرینونو او بېلګو له لارې بشپړه لارښونه وکړم. انشا الله د دې کار له پای څخه وروسته به تاسو په اډوبي ایلسټر یټر کې پوره پوره مهارت حاصل کړی.

اډوبي ایلسټریټر په بنیادي توګه ویکټر بیس لکه سرنامه( سر لیک)، ویزیټینګ کارت، پریس ایډ، لوګو ډیزایننګ او د کارټون ایلسټریشن په څیر کارونو لپاره یو غوره پروګرام ده او زیاتره 2D کارټون انیمیشن لپاره کارټون کریکټر هم په اډوبي ایلسټریټر کې جوړیږي.

موږ دلته په ټولو درسونو کې د اډوبي ایلسټریټر cs6 ورژن کارولی ده .

## د ویکټرګرافکس او ریسټرګرافکس تر منځ بنیادي توپیرونه


(c) ketabton.com: The Digital Library



| ريسټر ګرافيكس | ويکټر ګرافيکس |
|---|---|
| ۱: په ريسټر ګرافكس کې جوړ شوی ډيزاين د ډيرو پکسلونو مجموعه وي يعنې دا انځور په اصل کې له ډيرو پکسلونو څخه جوړ وي | ۱ په ويکټر ګرافکس کې جوړشوی اوډون(ډيزاين) ديوې ليکې يا پات مجموعه(ټولګه) وي |
| ۲: په دې کې جوړ شوی فايل عموما په gif,jpeg او ځينې نورو فارمېټونو باندې مشتمل وي. | ۲: په دې کې جوړ شوی هر فايل عموماًپهeps,ai او ځينې نورو فارمېټو باندې مشتمل وي. |
| ۳: په دې کې جوړ شوی اوډون (ډيزاين)که چېرې موږ لوی کړونو د انځور کيفيت يا معيار له منځه ځي.ځکه چې په دې کې يو څيز له ډيرو پکسلونو څخه جوړوي او کله چې موږ پکسلي انځور ډير زيات زوم کړو نو پکسلونه يې ماتيږي. | ۳: په دې کې د جوړ شوي لوګو يا انځورسايز که موږ څومره هم لوی کړو نو دهغوی په معيار (ښه والی) کې کوم بدلون نه راځي.<br>ولې چې داپه يوه ليکه يا پات باندې مشتمل وي.نو له همدې کبله عموما لوګو او اوډون ( ډيزاين) په ويکټر ګرافک کې جوړيږ ي چې صبا همدا ډيزاين له واړه کارت څخه نيولې تر لوی بورډ پورې په يوه معيار راشي. |

## په اډوبي ايلسټريټر کې فايل پرانيستنه يا ا خيستنه

په اډوبي ايلسټريټر کې د يوه نوي فايل خلاصولو لپاره په "new " باندې کليک وکړئ. په "new" باندې له کليک کولو سره سم به يو نوی فايل د " نيو ډاکومنټ " په نوم سره پرانستل شي. انځور ۱ او ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library






راځئ چې په دې کې د موجودو نکتو لنډه جايزه واخلو.

**Name:** په دې کې د فايل نوم اېښودل کيږي.

**Profile:** د دې مقصد دا وي چې کله موږ د کوم کار يا ډيزاين جوړولو څخه د مخه دا پرېکړه وکړو چې موږ دا ډيزاين د کوم مقصد لپاره جوړه وه يا يې په کوم ځاى کې استعمالوۀ . په پروفا يل باندې له کليک کولو سره سم به په يو څو اپشنې را څرګندې شي.

انځور٣




نو راځئ چې د دې اپشنو لاندې جايزه واخلو.

**Print:** دا پرنټنګ يا پرنټ ميډيا کارونو لپاره کارول کيږي.

**Web:** دا د ويب ميډيا لپاره لکه ډيزاين، لوګو، السټريشن او ځينې نورو کارونو لپاره کارول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Devices:**لکه څنګه چې تاسو ته غوره معلومه ده چې نن صبا د موبایلونو استعمال یوازې د تلیفون یا پیغام لیګلو حد پورې نه ده پاتې بلکه موبایلونه د انځورونو شریکولو، ویډیو ، انټرنیټ، ټولنېزو رسنیو او د ویډیو کال لپاره عام کارول کیږي. که چېرې تاسو خپل کوم ډیزاین د مو بایل فون ټیکنالوژي لپاره کارول غواړئ نو د ډیوایسیز اپشن څخه کار واخلئ.

**Video and film:** دا د لوګو، ډیزاین یا داسې نورو نشریاتو یعنې ټي وي لپاره کارول کیږي.

**No of artboards:** د دې په مرستې سره موږ په خپل فایل کې د خپل ضرورت مطابق د د آرټ بورډونو (صفحاتو) شمېر انتخابولی شو.یعنې په یو فایل کې له یو څخه په ډیرو آرټ بورډنو باندې په یو وخت کار کولی شو.البته په یو فایل کې تر ۱۰۰ پورې موږ آرټ بورډنه کارولی شو.


**Size:** په دې کې د آرټ بورډ سایز ( ګچه) ترتیبیږي

**Units:** دا دې لپاره ده چې موږ خپل ډیزاین په کومو یونټو سره جوړل غواړو. په عامه توګه انچه، سانتي متر او پکسل زیات کارول کیږي البته له دې نه علاوه نور یونټې هم دلته موجودې دي.

**Orientation:** لکه څنګه چې په مایکرو سافټ ورډ کې فایلونو لپاره "protrait" یا" landscape" انتخابول وي. همدا ډول دلته هم فایل په افقي یا عمودي ډول اخیستلو لپاره اپشنې موجودې دي.


دلته موږ په پروفایل کې د پرنټ اپشن ټاکلی ده او د ۱ ارټ بورډ په اخیستلو سره مو ok کړی ده. انځور ۴.


(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اډوبي ايلسټرېټر کې د بنيادي ټولز ( توکو) پېژند ګلوي او د هغوی کار يا دندې

انځور ۵ او۶




**Selection Tool (V)** : د دې ټول له لارې متن، يا يو شکل انتخابولی (ټاکلی) شو.له دې نه علاوه د دوی مقام بدلولی شو او د دوی سايز لويه ولی ، کمولی او تاوولی شو.



**Direct Selection Tool**: د دې ټول له لارې موږ له يوه څخه د ډېرو اينکر پواينټونو په انتخابولو سره د هغوی پوزيشن بدلولی

(c) ketabton.com: The Digital Library


شو. یانې د دې ټول په مرستې سره موږ هر ډول شکل یا پات دخپل ضرورت مطابق بدلولی شو.



**Group Selection Tool:** د دې ټول له لارې موږ د پواینټونو (نکتو) مجموعه په یو ځای انتخابولی شو. یعنې د یو مسطیل څلور نکتې په یو ځای انتخابولی شو.




**Magic wand Tool**: د دې له لارې موږ په خپل فایل کې په یو ډول رنګونو باندې مشتمل شکلونه په یو ځای انتخابولی(ټاکلی) شو.




**Lasso Tool:** د دې ټول له لارې موږ یو څیز، اینکر پواینټ، یا پات او داسې نور څیزونه انتخابولی شو.



**Pen Tool (P):** دا په اصل کې د ٢ اینکر پواینټونه په منځ کې لیکه (لاین) جوړه وي. یعنې د دې په مرستې سره موږ یو مشکل لوګو، الستریشن او کارټون او ځینې نور څېزونه جوړولی شو.




**Add Anchor Point Tool(+):** د دې ټول له لارې موږ په جوړ شوي پات کې د نورو اینکر پواینټونو (نکتو) اضافه کولی شو.




**Delete Anchor Point Tool (-):** د دې ټول له لارې موږ بغیر د ماتولو یو زیات، او غیر ضروري پواینټ لرې کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Convert Anchor Point Tool (Shift+C)** : د دې ټول له لارې مونږ له هر یوه اینکر پواینټ Control Handles ختمول یا ور شاملولی شو. په یاد ولرئ چې د اینکر پواینټ کنټرول هنډلز په خلاصولو سره به هغه ګول کیږي او په ختمولو سره به کونجور کیږي.




**Type Tool (T):** د متن ( لیک) له اهمیت څخه هیڅوک هم انکار نشي کولی، ولې چې بې شمېره پروژې یا ډیزاینونه له لیک څخه بغیر نیمګړې وي. د دې ټول له لارې مونږ په یو ډیزاین کې متن لیکلی شو.




**Type on a Path Tool:** د دې ټول له لارې مونږ په یوه پات باندې متن لیکلی شو.



**Area Type Tool:** د دې ټول له لارې مونږ په یو خاص شکل کې متن لیکلی شو.په یاد ولرئ چې دلته له شکل نه مراد هر ډول شکلونه لکه مربع، مستطیل، دایره، او داسې نور.




**Line Segment Tool (/):** د دې ټول له لارې مونږ یو سیده لیکه جوړولی شو.



**Elipse Tool (L):** د دې ټول له لارې مونږ هګۍ ډوله شکل جوړولی شو. او د دایرې جوړولو لپاره د دې ټول تر انتخابولو وروسته د shift تڼۍ وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Rectangle Tool (M):** د دې ټول له لارې موږ د مستطیل شکل جوړولی شو. او که چېرې د مربع شکل جوړول غواړئ نو د ریکټینګل ټول تر انتخابولو وروسته د شیفټ تڼۍ وکاروئ.




**Polygon tool:** د دې ټول له لارې یو کثیرالزاویه (په ډیرو زاویو باند مشتمل)شکل جوړیږي.یعنې د دریو یا له دریو څخه په ډیرو کونجونو باندې مشتمل شکل پرې جوړیږي.



**Rounded Rectangle Tool:** یو داسې مستطیل یا مربع شکل دې کوم چې کونجونه ګرد یانې ګول وي نو د دې ټول له لارې موږ د هغو په ګرد والي کې کمی زیاتی راوستلی شو.



**Star Tool:** ښکاره خبره ده چې د دې ټول له لارې موږ د ستوري شکل جوړولی شو. بلکه د خپل ضرورت مطابق د دې سایز(ګچه) او نکتو کې هم کمی زیاتی کولی شو.



**Flare Tool:** په یو ډول انځورونو کې استعمالو شوي لینس فري ایفیکټس سره دا یو شان ښکاري د کومو په منځ کې چې روښانه لیکو سره سره ریز اورزینګ هم موجود وي.




**Arc Tool:** د دې ټول له لارې موږ یوه تاو یا ګول یا ګرده لیکه جوړولی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Spiral Tool:** د دې په مرستې سره موږ سپايرل شکل جوړولی شو.



**Rectangular Grid Tool:** د دې ټول په مرستې سره موږ د ريکټېنګولر ګرېډ شکل جوړولی شو. دلته د سايز ورکولو سره د کالمونو او قطارونو انتخابولو اپشنې هم موجودې دي.




**Polar Grid Tool:** د دې ټول له لارې موږ د دايرې په څېر شکل په سيخو باندې مشتمل چوکاټ سره جوړولی شو.او د هغې سايز او ډيوايډر هم ټاکلی شو.




**Paint Brush Tool:** دا د پنسل په توګه کار کوي. په عام ډول شکلونو (سکيچنګ) يا په لاس سره جوړ شوي رسمونو کې کارول کيږي.



**Smooth Tool:** د دې ټول له لارې موږ يو اينکر پوا ينټ ګول کولی شو.




**Path Eraser Tool:** دا د پنسل پاک په څېر کار کوي. د دې ټول له لارې موږ يو پات ړنګولی شو.




**Eraser Tool (Shift+E):** دا هم پنسل پاک ده خو دا بيا د پات يا لاين ړنګولو لپاره کارول کيږي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


**Scissors Tool (C):** دا په اصل کې د کېنچې په څېر عمل تر سره کوي. او د شکلونو پرېکولو اړ څیرولو لپاره کارول کیږي. دا د ۲ اینکر پواینټونو تر منځ کار کوي او له یوه بل څخه یې جدا کوي.




**Knife tool:** دا د چاکو په څېر کار کوي او د شکلونو برخو پرېکولو لپاره کارول کیږي.خو دا بیا د هغو اېنکر پواینټونو تر منځ کار کوي چېرته چې دا کارول کیږي.




**Rotate Tool (R):** د دې ټول له لارې موږ یو انتخاب شوی شکل یا انځور په مختلفو زاویو تاوولی شو.



**Reflect Tool (O):** دا ټول د آیینې په څېر کار کوي. یعنې د دې ټول له لارې موږ یو شکل یا انځور ریفلیکټ کولی شو یا د آیینې اثر پکې اچولی شو.



**Scale Tool (S):** ښکاره خبره ده چې د دې ټول له لارې یو شکل ته سایز ورکول کیږي.



**Shear Tool**: که چېرې د یو شکل په څنګ کولو ته اړتیا پېښه شي نو دا ټول موږ "skew look" په توګه کارولی شو.



**Width Tool (Shift+W):** د دې ټول له لارې موږ د یوه شکل د لېکې په غوټوالي کې اضافه کولی شو


(c) ketabton.com: The Digital Library





**Warp Tool (Shift+R)**: د دې ټول له لارې موږ د يو شکل هره يوه برخه ديکه او کشولی شو. او هغه برخه به د ننه په طرف ننوزي يا به د باندې په طرف وزي.



**Twirl Tool:** هسې خو د دې مانا د تاوولو يا چکر ورکولو ده او په همدې مناسبت سره د دې ټول کار هم همدا ده. د دې ټول په مرستې سره موږ په يو شکل کې د تاوولو يا چکر ورکولو د بيګاړ اثر پيدا کولی شو.




**Pucker Tool:** که چېرې په يو څېره يا شکل کې د ګونځېکولو يا کونځې پيداکولو ته اړتيا پيښه شي نو بيا همدا ټول استعمالولی شو. دا به بالکل داسې ښکاري لکه له يو شي څخه چې هوا اوباسل شي او بيا هغه سره چت شي.



**Bloat Tool:** دا ټول د يوې څېرې يا شکل سر طرف ته حرکت ورکولو لپاره کارول کيږي. يعنې دا د يوه شکل سر طرف ته برخه باهر طرف ته اوباسې يا يې د ننه طرف ته ننه باسي.




**Scallop Tool:** د دې ټول له لارې موږ د يوه شکل يا څېرې په پات کېsmooth,randomاوshaped-Arc تفصيلات شاملولی شو




**Crystalize Tool:** د دې ټول له لارې موږ په يو شکل کې Random spikeاو Arc shaped details شاملولی شو.


(c) ketabton.com: The Digital Library

**Wrinkle Tool:** د دې ټول له لارې مورږ د يو شکل په پات کې Random Arc اوspikeshape په څير تفصيلات شاملولی شو.




**Free Transform Tool (E):** دا ټول د يو څيز تاوولو او سايز ورکولو لپاره کارول کيږي.



**Shape Builder Tool:** دا ټول د دووه مختلف ډوله شکلونه په خپل منځ کې نښلولو لپاره کارول کيږي.




**Paint Bucket Tool Live (K)**: دا ټول د يوه شکل په مختلفو برخو کې د مختلفو رنګونه اچولو لپاره کارول کيږي.



**Live Paint selection Tool (Shift+L):** دا ټول د پاسنې ټول په مرستې سره ذ رنګ شويو برخو سليکټکولو لپاره کارول کيږي.




**Mesh Tool (U):** دا ټول د يو شکل مختلفو برخو ته رنګ ورکولو او د هغو په منځ کې د سيوري اثر پيدا کولو لپاره کارول کيږي.




**Gradient Tool (G):** د دې ټول له لارې د دوه يا له دوه څخه زياتو رنګونو د وراچونې اړخ بدلول کيږي


(c) ketabton.com: The Digital Library


**Eyedropper Tool (I):** دا په سترګو کې اچولو وا لا دوا نه ده بلکه د دې ټول له لارې هر ډول رنګ په انتخاب شوي شکل کې اچول کیږي.




**Blend tool (W):** د دې په مرستې سره موږ مختلف شکلونه په یوه کړۍ کې ترتیبولی شو، د کوم په نتیجې کې به چې د شکل بدلولو سره سره به د هغوی رنګ هم ورو ورو بدلیږي



**Symbol Sprayer Tool (Shift+S):** د دې ټول له لارې د انتخاب شوی سیمبول له یو ځخه زیات نقلونه لاسته راوړل کیږي.یعنې د اسپرې له لارې یو ډول سیمبولونه ډیر جوړیږي .



**Symbol Shifter Tool:** د دې ټول له لارې موږ د سیمبولونو پوزیشن بدلولی شو یعنې له یوه ځای ځخه یې بل ځای ته لیږدولی شو.




**Symbol Scrucnher Tool:** دا ټول د سیمبولونو تر منځ فاصله کموي.



**Symbol Sizer Tool:** د دې ټول له لارې د سیمبول سایز سترول کیږي خو د سیمبول سایز ورکوټي کولو لپاره د alt key کارول کیږي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


**Symbol Spinner Tool:** د دې ټول له لارې سیمبول تاوولی شو.




**Symbol Stainer Tool:** د دې ټول له لارې یو انتخاب شوی رنګ په یو سیمبول باندې د سپرې په څیر خیجولی شو.




**Symbol Screener Tool:** د دې ټول له لارې د سیمبولونو سیټ شفاف جوړولی شو او دوباره د پخوا په څیر یعنې د شفافیت ختمولو او یا کمولو لپاره د Alt تنۍ وکاروئ.



**Symbol Styler Tool:** دې ټول له لارې په یو سیمبول باندې هر ډوله ګرافک ستایل د سپرې په څیر خیجولی شو.




**Art board Tool (Shift+O):** په دې کې د آرټ بورډ یانې پاڼو سایز بدلولی شو



**Slice Tool (Shift+K):** د دې ټول له لارې موږ خپل ډیزاین په بیلا بیلو برخو کې ویشلو څخه وروسته د ځانګړیو فایلونو په څیر خوندي کولی شو. خو.د دې فایلونو سایز به هم ډیر کمیږي. عموما د طریقه د ویب سایټ جوړولو لپاره کارول کیږي تر څو فایل په ډیر کم وخت کې اپلوډ او ډاونلوډ شي. له دې نه علاوه د دې په مرستې سره د کوم فایل لینک هم موږ ورکولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Slice Selection Tool:** دا ټول د پورتني (سلايس ټول) له لارې شوی سليکش انتخلبولو او بدلولو لپاره کارول کيږي



**Hand Tool (H):** د دې ټول له لارې موږ د يوه ډاکومينټ ويوو (ليد) بدلولی شو.




**Zoom Tool (Z):** دا ټول د يو شکل يا ډيزاين نږدې يا لرې ښکاره کولو لپاره کارول کيږي.

## پرشکلونو باندې متن ليکل


لومړی يو نوی فايل خلاص کړئ او په دې کې يو شکل رسم کړئ. موږ دلته د Polygonal Tool ټول په مرستې سره يو شکل جوړ کړی دی. انځور

اوس د "area type tool" انتخابولو څخه وروسته د دې پولی ګون په پات باندې کليک وکړئ. له کليک کولو سره سم به تاسو د متن ليکلو قابل شی. انځور ۸

۸




۷



(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ډول تیکنیک په عامه توګه په مجلو کې تر سترګو کیږي په کوم کې چې د یو متن موهمې لیکې یا یو ځانګړی پیراګراف په یو شکل کې لیکل شوې وي او د لوستونکو په دلچسپي کې اضافه کوي.

په یو پات باندې برسیره لیک کولو لپاره تر ټولو د مخه یو پات جوړ کړئ

موږ دلته د پین ټول له لارې یو پات جوړ کړی ده .. انځور ۹

اوس نو د " Type on Path" ټول تر انتخابولو وروسته په هغه پات باندې کلیک وکړئ.نو تاسو به سمدستي د متن لیکلو قابل شئ.

انځور ۱۰




۱۰ ۹


## (د پین ټول عملي استعمال ( کارول))

په مختلفو سافټویرونو کې د پین ټو استعمال ډیر عام ده او په دې سره یو پیچلی شکل موږ په ډیرې آسانۍ سره جوړولی شو.په اډوبي ایلسټریټر کې د پین ټول له لارې موږ خاص مشکېل شکلونو، لوګو او کارټون السټریشن جوړولی شو.

په اډوبي ایلسټریټر کې ویکټر ډراینګ ( ویکټري رسم) په یو پات باندې مشتمل وي. پات څه ته وايي؟ پات په اصل کې د ډیرو اینکر پواینټونو او سیګمنټس مجموعه وي. نو راځئ چې د پین ټول عملي کارونې سره ځانونه بلد کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو نوی فایل خلاص کړی او د پین ټول په انتخابولو سره په آرټ بورډ باندې کلیک وکړئ. له کلیک کولو سره سم به یو اینکر پواینټ جوړ شي. انځور ١١



١١

د اینکر پواینټونو جوړولو څخه وروسته په یو پواینټ باندې کلیک وکړئ نو دا پاټ به بند شي. خو دا لازمه نه ده چې هر پاټ باید بند شي بلکه موږ د خپل ضروت مطابق هغه پاټ خلاصولی هم شو.


په یاد ولرئ هر کله چې تاسو په پین ټول سره کلیکونه کوی نو یو کورنر پواینټ ( د کونج نکته) او "straight segment " موږ ته جوړیږي خو که چیرې موږ په پین ټول سره د کلیک کولو تر څنګ هغه کش هم کړو نو د دې په بدله کې به موږ ته " smmoth point" او " curve point" جوړیږي. انځور ١٢




١٢


ایډ اینکر پواینټ ټول : د دې ټول له لارې له مخکې موجود پاټ کې د نورو اینکر پواینټونو اضافه کیږي. انځور ١٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيليټ اينکر پواينټ: د دې ټول له لارې په پات کې موجود اضافه اينکر پواينټونه ختمول کيږي.

کنورټ اينکر پواينټ ټول: د دې ټول له لارې موږ يو اينکر پواينټ "convert to smooth" او"smooth to convert" کولی شو. يعنې د دې ټول له لارې موږ يو اينکر پواينټ ګول يا کونجور کولی شو. اينکر پواينټ ګول کولو لپاره دا ټول انتخاب کړئ او بيا يې کش کړئ. او د کونجور کولو لپاره يوازې پرې کليک وکړئ.انځور ۱۴



۱۴


په ياد ولرئ چې دا نه ده ضرور چې په اول وار کې به موږ بالکل سم شکل جوړوه بلکه په عامه توګه داسې کيږي چې د يو شکل تر جوړولو وروسته په هغه کې دوباره يا بار بار د بدلونو اړتيا منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو اینکر پواینټ پوزیشن بدلولو لپاره "Direct selection tool" کارول کیږي. همدا ډول د ضرورت مطابق په بدلون سره موږ خپلې د مطلب نتیجې لاس ته راوړی شو.

## د Blend Tool کارول

د بلینډ لفظي مانا د یو ځای کولو یا ګډونې ده. په اډوبي ایلسټریټر کې موږ دوه یا له دوه څخه ډیر شکلونه په خپل منځ کې سره یوځای کولی شو. او په نتیجې کې به د دوه شکلونو تر منځ مختلف نقلونو جوړیږي. دوه شکلونه جوړ کړی او له یو بل څخه یې لګ په فاصله باندې کښېږدی او د بلینډ ټول په مرستې سره په همدې شکلونو باندې کلیک وکړئ کوم چې تاسو بلینډ کول غواړی نو مختلف نقلونه به یې تر منځ جوړ شي. انځور ۱۵ او ۱۲




د بلینډ نورو اپشنو لپاره په بلینډ ټول باندې دوه ځله کلیک ( ډبل کلیک) وکړئ. په ډبل کلیک کولو سره سم به یوه نوې وینډو د " optio nsBlend" په نوم خلاصه شي. انځور ۱۷



(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د " specified steps " له لارې موږ د خپل ضرورت مطابق د شکلونو تعداد جوړوی شو. او د " specified distance " په مرستې سره موږ د دوه شکلونو تر منځ واټن ټاکلی شو.

## ( د Bloat tool استعمال )


دا په اصل کې د پاټ کونجونو باندې کښلی شوې برخې له سر څخه د لرې کېدو کوښښ کوي. راځئ چې په دې ټول باندې په عملي توګه ځانونه پوهه کړو.

یو نوی فایل خلاص کړئ او یوه مربع جوړه کړئ.اوس په بلټ ټول سره د دې مربع په سطحه باندې د انځور ۱۸ مطابق ډریګ وکړئ .له دې وروسته به تاسو ته د ۱۹ انځور غوندې نتیجه مخ ته وي. او دا هم په یاد ولرئ چې د بلټ ټول قطر ( ډایا میټر) موږ کموی او زیاتوی هم شو. د د ې مقصد لپاره په بلټ ټول باندې ډبل کلیک وکړئ . او یوه نوې وینډو به خلاصه شي. چېرته چې موږ د پلنوالي او اوګدوالی لپاره خاص قیمتونه ورکولی شو.

۱۸



۱۹



## (د شیپ بلډر ټول استعمال)


د دې ټول له لارې موږ مشکل شکلونو په خورا آسانی او په ډیر کم وخت کې ( د شیانو په یو ځای کولو او رنګولو سره) جوړولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا په اصل کې د منتخب شویو (selected) شکلونو کونجونه د هغوی د جسامت په لحاظ سره یو ځای کوي او رنګوي.


د دې مقصد لپاره دوه مختلف شکلونو جوړ کړی او بیا د هغوی کونجونه پر یو بل باندې وخیجوی. او بیا دواړه شکلونو یو ځای منتخب (سلیکټ) کړئ او بیا د شیپ بلډر ټول په مرستې پاسنی شکل په لاندې شکل باندې کش کړئ. انځور ۲۱

۲۱




## (د شکلونو مقام (ځای) بدلول )

له پاسني مثال څخه موږ ته دا مالومه شوه چې موږ کوم شکل اخر کې جوړوه نو د هغه پوزیشن به په لومړي سر کې جوړ شوي شکل باندې برسیره راځي او همدا ترتیب په اخر کې جوړو شو شکلونو سره کیږي. انځور ۲۲




۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوزیشن په لحاظ سره په انځور ۲۲ کې په ټولو برسیره پولی ګون ده او له هغه لاندې دایره او تر ټولو لاندې مستطیل ده. که چیرې تاسو پولي ګون له دایرې یا مستطیل څخه لاندې وړل غواړئ نو پولي ګون منتخب کړئ او په آبجیکټ مینو کې پر"Arrange" باندې کلیک وکړئ. ۲۳ انځور




**Bring to front:** د دې په مرستې سره منتخب شوی شکل، په آرټ بورډ کې پر موجودو ټولو شکلونو باندې برسیر راوستلی شو.

**Bring forward:** د دې په مرستې سره یو شکل د بل شکل څخه دپاسه راوستلی شو.


**Send backward:** د دې په مرستې موږ یو شکل له بل شکل څخه لاندې راوستلی شو.


**Send to back:** د دې په مرستې سره یو منتخب شوی شکل په آرټ بورډ کې موجودو ټولو شکلونو څخه لاندې راوستلی شو.

## Hide

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دي ټول له لارې موږ یو شکل یا انځور په عارضي توګه غایبولی شو. د ډیلیټ کولو په صورت کې به هغه په مکمله توګه له منځه ځي خو که چېرې موږ یو شکل hide کړو نو موږ هغه شکل بیرته په آسانی سره لاس ته راوړلی شو. نو د همدې مقصد لپاره یو شکل یا انځور انتخاب کړئ کوم چې تاسو له آرټ بورډ څخه غایبول غواړی، او آبجیکټ مینو ته لاړ شئ او په"hide" کې په سلیکشن باندې کلیک وکړئ. په کلیک کولوسره سم به هغه شکل یا انځور له آرټ بورډ څخه غایب شي. او د انځور یا شکل واپس راوړلو لپاره په آبجیکټ مینو کې په" show all"کلیک وکړئ.۲۴ او ۲۵ انځور.






## ( ټرانسفارمیشن)

زیاتره وخت د ځینو انځورونو یا نورو څیزونو په سایز، پوزیشن او زاویو کې د بدلون اړتیا منځ ته راځي.د دې مقصد لپاره په آبجیکټ مینو کې یو څو اپشنې موجودې دي.۲۲ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Move:** د دې په مرستې سره موږ د یوه منتخب شوي شکل یا انځور پوزیشن بدلولی شو. په move باندې له کلیک کولو سره سم به یوه نوې وینډو د move په نوم خلاصه شي. ۲۷ انځور






موږ د لته د خپل ضرورت مطابق قیمتونه په ورکولو سره د دې پوزیشن بدلولی شو. خو په یاد ولرئ چې دلته موجود copy باندې په کلیک کولو سره سم به منتخب شوی شکل په خپل ځای پاتې وي او یو نوی شکل به په بدل پوزیشن سره جوړوي.

**Rotate:** د دې په مرستې سره موږ یو شکل یا انځور تاوولی شو. په دې باندې له کلیک کولو سره سم به یو نوې وینډو د Rotate په نوم سره خلاصه شي. اوس دلته تاسو خپله مطلوبه زوایه ولیکئ او ok یې کړئ نو تاسو به وګورئ چې هغه انتخاب شوی شکل یا انځور به په هغه مخصوصه زاویه باندې تاوو شوی وي.۲۸ انځور


(c) ketabton.com: The Digital Library


**Reflect:** د دې په مرستې سره موږ په یوه انځور یا شکل کې د آیینې تاثر اچولی شو. ۲۹ انځور





**Scale:** د یو انځور یا شکل سایز کمولو زیاتولو لپاره scale کارول کیږي. انځور ۳۰




په سکیل ویندو کې دuniform مطلب په یو شان نسبت سره سایز کمول یا زیاتول وي.که چېرې موږ د یوه شکل یا انځور په پلنوالي یا اوږدوالي کې کمی زیاتی راولو نو په همدې نسبت سره به د هغوی په پلنوالي یا اوږدوالي کې بدلون راځي. له دې نه علاوه دلته د"uniform-non" آپشن هم موجود ده. د کوم په انتخابولو سره چې موږ د یوه شکل یا انځور په پلنوالي یا اوږد والي کې د خپلې خوښې بدلون راوستلی شو.


(c) ketabton.com: The Digital Library


**Shear:** د دې په مرستې سره موږ يو شکل په څنګ کولی يانې skew کولی شو. دلته په "shareangle" کې د قيمتونو په ورکولو سره موږ شکل په څنګ کولی شو. ۳۱ انځور.




## ګروپ(ډلول)

د دې په مرستې سره موږ جوړ شوي مختلف شکلونو د يوه ګروپ ( ټولي )په صورت کې سره يو ځای کولی شو.د دې مقصد لپاره هغه ټول شکلونو منتخب کړئ کوم چې تاسې د يوه ټولي په شکل کې راوستل غواړې او له هغې وروسته په ابجيکټ مينو کې په group باندې کليک وکړئ. ۳۲ انځور.




اوس که چېرې تاسې له همدې شکلونو څخه په يو شکل باندې کليک وکړی نو هغه ټول شکلونو به ورسره منتخب شي، ولې چې اوس د دې شکلونو تر منځ يو ګروپ جوړ شوی دی. همدا رنګه که چېرې تاسو د يوه


(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل په  پوزیشن، سکیل یا روټیشن کې بدلون کوی نو همدا بدلون په ګروپ کې پر ټولو شکلونو باندې هم راځي .له دې نه علاوه که چېرې تاسو واپس  دغو شکلونو تر منځ ګروپ ختمول غواړی نو په ابجیکټ مینو کې په ungroup باندې کلیک وکړئ انځور ۳۳




## (Transparent)

دلته له شفافیت (ټرانسپیرینټ) څخه مراد د یو شکل  "opacity" کمول یا زیاتول دي. یو شکل منتخب کړئ او د وینډو په مینیو کې په " Transparency" باندې کلیک وکړئ. انځور ۳۴ او ۳۵



(c) ketabton.com: The Digital Library


د ټرانسپيرينسي په وينډو کې "opacity" ته بدلون ورکړئ. دلته د مقررو شړيو وصولو مطابق ۱۰۰opacity% وي خو چې څنکه موږ په دې قيمت کې کمی راولو نو منتخب شوی شکل يا انځور به هم ورسره شفاف کيږي.


Opacity په صفر کولو سره به انځور يا شکل بالکل له نظيره ورک شي خو انځور يا شکل به په خپل ځای موجود وي خو د مکمل شفافيت په وجې به موږ ته په نظير نه راځي.


## (د څيزونو جالب جوړول)

په اډوبي ايلسټريټر کې يو شی، ډيزاين يا لوګو جالب جوړولو لپاره يو څو اپشنې ورکړل شوې دي. همدا آپشنې د مجلو ټايټل پاڼې، بروشرز، بل بورډز او ويب سايټونو ډيزاينولو لپاره کارول کيږي. نو راځی چې د همدې آپشنو جايزه واخلو

**شيډو ايفيکټ:** دلته له دې څخه مراد يوه شکل يا ډيزاين ته سيوری ورکول دي.که چيرې تاسو يوه شکل ته سيوری ورکول غواړئ نو هغه شکل يا ډيزاين انتخاب کړی کوم ته چې تاسو د سويرې اثر ورکول غواړئ، او ايفيکټ مينو ته لاړ شئ او په سټايل سايز کې په ډراپ شيډو باندې کليک وکړئ. انځور ۳۶ او ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ډراپ شیډو په وینډو کې په preview باندې کلیک وکړئ. له کلیک کولو سره سم به د سویري تاثرات راښکاره شي. راځي چې دلته د موجودو چیده چیده آپشنو جایزه واخلو.

**Opacity:** د دې په مرستې سره موږ د دې سویري اثر opacityد خپل ضرورت مطابق کموی زیاتوی شو.

**X-offset:** د دې په مرستې سره د دې سویري اثر  x axis باندې پوزیشن بدلولی شو.

**Y-offset:** د دې په مرستې سره موږ د دې سویري اثر پوزیشن وایی ایکسیز ته بدلولی شو.

**Blur:** د دې په مرستې موږ د دې سویري اثر بلور کولی شو.


**Color:** د دې په مرستې د دې سویري اثر رنګ بدلولی شو.

**Outer glow:** د دې په مرستې سره موږ یو متن یا شکل ته د ځلا اثر ورکولی شو.ددې مقصد لپاره تاسو مطلوبه متن یا شکل منتخب کړئ


(c) ketabton.com: The Digital Library



او ایفیکټ مینو ته لاړ شئ او په ستایل سایز کې پهouter glow باندې کلیک وکړئ. دلته موجودي اپشنې یعنې بلر اوopacityوغیره بدلولی شو.لکه څنګه چې له دې موږ مخکې په ډراپ شیډو کې زدکړې وه. ۳۸ او ۳۹ انځور





**Inner glow:** د دې په مرستې سره موږ د یوه شکل یا ډیزاین ننې حصې ته د ځلا اثر ورکولی شو. د دې مقصد لپاره تاسو یو شکل یا ډیزاین منتخب کړئ او بیا ایفیکټ مینو ته لاړ شئ او په ستایل سایز کې په inner glow باندې کلیک وکړئ.انځور ۴۰ او ۴۱





د اینر ګلو په وینډ کې په blur,color او opacity کې بدلون کیدلی شي. دا د آوټر ګلو په څیر کار کوي. خو ترمنځ یوازې دا فرق ده چې د یو شکل ننه طرف ته د ځلا اثر ورکوي او اوټر ګلو د باندې طرف ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Feather:** ددې په مرستې سره موږ د يو شكل ځلورو طرفونو ننه اړخ ته د تت والي اثر وركولی شو.د دې مقصد لپاره خپل مطلوب شكل انتخاب كړئ او د effect په مېنو كې په feather باندې كليک وكړئ.انځور ۴۲ او ۴۳




دلته تاسې د radius په مرستې سره انتخاب شوي شكل ځلورو طرفو ته د تت والي اثر وذكولی شئ. او بل په يو شكل باندې په يوه وخت له يو څخه زيات اثرونه هم راوستلی شو. د بېلګې په توګه په يو شكل باندې د ډراپ شېډو سره سره آوټر ګلو او انر ګلو او فيدر هم كارولی شو.


**Warp:** د دې په مرستې سره يو شكل يا متن په بيلا بيلو ډولونو سره warpكولی شو.له كوم سره چې د دې شكل view ياني ليد بدلېدی شي. ايفيكټ مېنو ته لاړ شئ او په warpباندې كليک وكړئ. انځور ۴۴ او ۴۵






(c) ketabton.com: The Digital Library
١

دلته د موجودو ستایلونو ممکنه نتایج ښکاره کړل شوي دي. انځور ۴۲





## (Symbol Spryer Tool)




د دي ټول له لاري  د یوه انتخاب شوي سیمبول سېټ جوړېږي یعني ډېر سیمبولونه موږ په یو ځای لاسته راوړلی شو. یعني دا د منتخب شوي سیمبول سپري کوي. د دي ټول عملي کارولو لپاره تر ټولو لومړي وینډو مینو ته لاړ شئ او په سیمبلز باندي کلیک وکړئ. انځور ۴۷ او۴۸




(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس دلته په یوه سیمبول باندې کلیک وکړئ. له دې نه علاوه نور سیمبولونه هم لوډ کولی شو. د دې مقصد لپاره په " اوپن سیمبلز لایبریري " باندې کلیک وکړئ او بیا دلته د خپلې خوښې مطابق category باندې کلیک وکړئ. انځور۴۹





۴۹


دلته د یو سیمبول تر انتخابولو څخه وروسته سیمبلز اسپری ټول انتخاب کړئ او د آرټ بورډ په لور یې کش کړئ. انځور ۵۰



۵۰




**Symbol shifter tool:** د دې ټول له لارې په سېټ (مجموعه) کې موجود سیمبولونه له یو ځای څخه بل ځای ته وړل کیږي.




**Symbol scrunch tool:** د دې ټول له لارې د سیمبلونو (نښانونو) ځای بدلیږي او د هغوی تر منځ فاصله هم کمیږي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


**Symbol sizer tool:** د دې ټول له لارې د سیمبولونو سایز غټول کیږي او د کمولو لپاره د alt تڼۍ کارول کیږي.




**Symbol Spinner Tool:** دا د سیمبول مخه ( سمت) بدلوي.




**Symbol stainer tool:** د دې ټول له لارې په سیمبول کې منتخب شوي فلر کلر اچولی شو.




**Symbol screener tool:** د دې ټول له لارې د سیمبول opacity کمیږي او زیاتیږي. دا ټول له alt تڼۍ سره کارول کیږي.




**Symbol styler Tool:** د دې ټول له لارې په سیمبول باندې ګرافک سټایلونه خپجول کیږي. که چیرې تاسو په سیمبول باندې ګرافک سټایل خپجول غواړئ نو د وینډو مینو ته لاړ شئ او په ګرافک سټایل باندې کلیک وکړئ. انځور **۵۱** او **۵۲**



(c) ketabton.com: The Digital Library


له دي نه علاوه د " اوپن ګرافک ستايل لايبريري " له لاري نور ګرافک ستايلونه هم راوړل کيږي. انځور ۵۳



۵۳

## (يو ډول رنګونه انتخابول)


يو ډول رنګونو انتخابولو لپاره د کار په وخت زياتره وخت د دي خبري اړتيا منځ ته را ځي چي د يو شکل يا انځور رنګ په کوم بل شکل کي په همدي قيمت سره واچول شي.د دي مقصد لپاره eye dropper ټول کارول کيږي.د کوم په مرستي سره موږ يو ډول رنګ يوازي په يو کېک سره په خپل مطلوبه شکل يا انځور کي اچولی شو.

## (له يو ځخه زيات آرټ بورډونه )

په اډوبي ابلسټريټر کي په يو فايل کي په يو وخت له يوه آرټ بورډ څخه د زياتو آرټبورډونو کارولو سهولت هم موجود دی. يعني موږ ته به د هر آرټ بورډ لپاره د يوه نوي فايل خلاصولو اړتيا منځ ته نه راځي. که چيري تاسو له يو څخه زيات آرټ بورډونه کارول غواړئ نو فايل مينو ته لاړ شئ او په new باندي کليک وکړئ او دلته موجود number of artboards کي د خپل ضرورت مطابق شمير وليکئ او ok يي کړئ.


په ياد ولرئ : چي موږ په يو فايل کي تر ۱۰۰ پوري آرټ بورډونه اخيستلی او کارولی شو .انځور ۵۷


(c) ketabton.com: The Digital Library


## (کي بورډ شارټ کټې)

لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده چې په کسبي چاپېريال کې د شارټ کټو ډېر اهميت ده. اډوبي اېلسټرېټر د ضرورت مطابق شارټ کټو جوړولو او له وړاندې موجودو شارټ کټو بدلولو سهولت هم موږ ته راکوي. که چيرې تاسې نوې شارټ کټې جوړول غواړئ يا له مخکې جوړو شوی شارټ کټو کې بدلون راوستل غواړئ نه په ايډېټ مينو کې په keyboard shortcut باندې کليک وکړئ. انځور **۵۴** او **۵۵**




(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه ټول یا مېنو کې د موجود کمانډ شارټ کټ جوړولو یا بدلولو څخه وروسته په ok باندې کلېک وکړئ. له کېک کولو سره سم به یوه نوې وینډو د save keyset file په نوم سره خلاصه شي.انځور **۵۲**






دلته د دې شارټ کټ تر نوم لیکلو څخه وروسته د ok تڼۍ کیکاږئ. چې کله تاسو نوی شارکټ کاروی نو هغه ټول یا کمانډ به انتخاب شي د کوم لپاره چې تاسو شارټ کټ جوړکړی وي.

## (په آرټ بورډ کې د یوه انځور اچول یا راوستل )


په اډوبي ایلسټرېټر کې هر ډول انځور راوستل کیږي. نو د همدې مقصد لپاره تاسې یو نوی فایل واخلئ او په فایل مېنو کې په place باندې کلیک وکړئ. د پلیس وینډو تر خلاصېدو څخه وروسته خپل مطلوبه انځور منتخب کړئ او په پلیس باندې کلېک وکړئ.انځور **۵۸** او **۵۹**.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د يوې خبرې خيال وساتئ چې د پليس كولو په وخت دلته موجو لېنك څخه چيک لرې كړئ. ځكه چې كه چېرې د دغه پليس كړئ شوي انځور ځاى بدل كړل شي يا دغه انځور ډيليټ كړل شي نو اډوبي اېلستريټر به په دې فايل كې missing image شروع كړي. او همدا ډول به دغه انځور د اډوبي ايلستريټر حصه نشي جوړه. خو اېلستريټر به دغه انځور په هغه زاړه ځاى باندې لټوي. نو د دې لپاره كه چېرې له لېنك څخه چيک لرې كړل شي نو دغه انځور به د اډوبي اېلستريټر حصه جوړه شي او بيا كه چېرې د دې انځور ځاى بدل كړل شي نو هغه انځور په خپل ځاى موجود وي.انځور ٦٠





**(فايل خوندي كړئ)**


(c) ketabton.com: The Digital Library


په کسبي چاپېريال کې شوی کار محفوظول(خوندی کول) ډېر ضروري دي، د دې لپاره چې دغه فايل بل وخت هم وکارول شي. د دې مقصد لپاره په فايل مېنو کې پهsave باندې کلېک وکړئ. انځور ۲۱ او ۲۲






اوس دلته تاسې په خپل مطلوبه لوکيشن باندې د فايل نوم کېږدی او پهai فارمټ سره يې save کړئ.له کلېک کولو سره سم به د ايلسټرېټر اپشنز تر نوم لاندې وېنډو خلاصه شي.انځور ۲۳





تاسې دلته د ايلسټرېټر زوړ ورژن هم انتخابولی شئ او ګټه به يې دا وي چې دغه فايل به د ايلسټرېټر په زړو ورژنو کې هم په آسانۍ سره خلاصېږي. موږ دلته خپل فايل په ai فارمټ کې save کړئ دی. دا د ايلسټرېټر بنيادي فايل فارميټ ده.او زياتره وخت داسې هم کيږي چې


(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ خپل فایل په یو داسې فارمیټ کې محفوظ کړی وي، کوم چې له اډوبي ایلسټریټر سره براه راست کوم تعلق نه لري. او موږ یې دا فایل له اډوبي ایلسټریټر څخه بغیر خلاصول غواړو. نو د دې مقصد لپاره فایل مېنو ته لاړ شی او په ایکسپورټ باندې کېک وکړئ نو یوه نوې وینډو به د export په نوم سره خلاصه شي.

اوس دلته یو فارمټ منتخب کړئ. موږ دلته.jpeg یا .jpg فارمیټ منتخب کړی ده. Jpeg.منتخب کړئ او save تنۍ کېکاږئ.

دلته کلر موډ او کوالټي منتخب کړئ او ok یې کړئ.داوس به دغه فایل د یوه انځور په توګه محفوظ شي، او له اډوبي ایلسټریټر څخه بغیر به هم خلاصیږي. او په یاد ولرئ چې د ایکسپورټ کولو په وخت تاسې چې کوم فارمیټ انتخابوی نو د هغه متعلق اپشنو یوه وینډو به خلاصیږي. په ایډوبي ایلسټریټر کې له JPEG څخه پرته په نورو فارمېټو کې هم فایل ایکسپورټ کیدلی شي. انځور ۲۴ او ۲۵




## د 3D څیزونو جوړول

لکه څنګه چې موږ او تاسې ته معلومه ده چې اډوبي ایلسټریټر په بنیادي توګه یو 2D یعنې دوه مخي یا دوه اړخیز پروګرام ده خو په دې کې موږ 3D (درې اړخیز) څیزونه هم جوړولی شو. خو بیا دلته موږ 3D څیزونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کسبي معيار مطابق نه شو جوړولی. يعنې په دې پروګرام کې په بشپړه توګه 3D پارتمانونه، پلاټونه، کورونه، او کريکټر تيارولو وړتيا نه لري. د 3 Dڅيزونو په بشپړه توګه جوړونې لپاره موږ اړيو چې 3 Dپروګرامونه وکاروه. البته په اډوبي ايلسټرېټر کې د بنيادي 3 Dڅيزونو جوړوله سهولت موجود ده. راځئ چې په اډوبي ايسټرېټر کې د 3 Dڅيزونو لپاره د ورکړل شويواپشنوجايزه واخلو.

Revolve: د دې له لارې په اډوبي ايلسټرېټر کې ګرد څيزونه جوړيږي. تاسې يوازې يو پات جوړ کړئ، دا به يې په بشپړه توګه په يوه 3D څيز کې بدل کړي.انځور ۳

طريقه: يو پات انتخاب کړئ او ايفيکټ مينو ته لاړ شئ او په 3D کې پر "Revolve" باندې کليک وکړئ. او کومه وينډو چې خلاصه شي په هغه کې په 3D Reolve Options پريوو باندې کيک وکړئ اوس نو دغه پات يا کوم شکل چې انتخاب شوی وي په يوه 3 Dڅيز به بدل شوی وي. انځور ۴، ۵ او ۶

تاسې دغه 3D څيز 3D Rotate هم کولای شئ او د surface له لارې د دې شيډينک هم بدلولی شئ. دلته د art map آپشن هم موجود ده، دې کوم له لارې چې موږ د آبجيکټ يا څيز په يوه حصه باندې map يعنې ميټريل هم راوستلی شو. خو د دې لپاره ميټريل بايد د سيمبول په شکل کې موجود وي. له دې نه علاوه more options له لارې د رڼا ايفيکټ هم بدلولی شو .

په لاينديني انځور کې يو څو شکلونه او له هغو څخه جوړ شوي 3D ابجيکټس يا څيزونه ښودل شوي دي.انځور ۷

Extrude and bevel:

د دې په مرستې سره هم 3D څيزونه جوړيږي. خو.د دې خصوصيت د يوه شکل Depth جوړول دي. د دې عملي استعمال لپاره يو نوی فايل واخلئ او په آرټ بورډ کې يوه مربع جوړه کړئ. او له هغې وروسته په ترتيب سره لومړی ايفيکټس مينو ته لاړ شئ او د 3D اپشن انتخاب

(c) ketabton.com: The Digital Library


باندې extrude and bevel کړئ. اوس نو د 3D په وینډو کې په
کلیک وکړئ، یوه نوې وینډو به د 3D extrude and bevel options
تر نوم لاندې خلاصه شي. انځور ۸ او ۹
پر پریوېوو باندې کلیک وکړئ، نو انتخاب شوې مربع به په یو 3D
مکعب کې بدله شي.انځور ۱۰

Tracing:

یو نوی فایل واخلئ او یو انځور د place کمانډ له لارې په خپل آرټ
بورډ باندې راولئ. (یادونه په وړاندې لوست کې موو د انځور place
کولو طریقه ښودلې ده) انځور ۱۱
اوس دغه انځور په ابجیکټ مېنو کې lock کړئ. تر څو د tracing عمل
په آساني سره تر سره شي. اوس د پین ټول له لارې ټولې حصې جدا جدا
جوړې کړئ. د زوم له لارې هر حصه جدا جدا جوړه کړئ. چې کله ټولې
حصې جوړې کړئ نو ایفیکټ مینو ته لاړشئ او په unlock allباندې
کلیک وکړئ.
اوس د اصلي انځور په ختمولو سره به یو شکل تاسو ته د cartoon په
صورت کې tracing حاضر وي. همداډول کارونو لپاره د خورا ډیر تمرین
اړتیا وي. انځور ۱۲

Image trace :

د دې له لارې په پکسلونو باندې د مشتمل انځور په سمدستي توګه پات
لاسته راوړل کیږي، یعنې یو انځور په آسانۍ سره editable vector
artwork (یعنې یو پیکسلي انځور ویکټوري بڼې ته بدلولی او بیا پکې
سمون کولی شو). دا ډول عمل په کسبي چاپیریال کې د tracing لپاره
کارول کیږي، ځکه چې ځینې وخت په ډیر کم وخت کې د نتیجو لاسته
راونې اړتیا پیښیږي. خو تاسې د یوه نوي ډیزاین یا ټریسینګ جوړولو
تمرین هم وکړئ. بهر حال د دعملي استعمال لپاره یو نوی فایل واخلی او
انځور پکې پلیس کړې. اوس نو دغه انځور سلیکټ کړئ او د وینډو په
مینو کې په image traceباندې کلیک وکړئ، له کلیک کولو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروسته به د image trace په نوم یوه وینډو خلاصه شي. اوس دلته یو پری سیټ انتخاب کړئ او په آبجیکټ مینو کې په expand باندې کلیک وکړئ. په دې سلسله کې لاندیني انځورونه ننداره کړئ. انځور ۱۳،۱۴ او ۱۵.

اوس تاسې د direct selection tool له لارې د دې انځور مختلفې برخې په سلیکټ کولو سره ایډیټ کولای هم شئ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**